ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT

JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8.No.2( 2025)

# د ډاکټر علي خېل درياب د شعري مجموعې "د رنګونو درياب" موضوعاتي جاج

# THEMATIC REVIEW OF DR. ALIKHEL DARYAB'S POETRY COLLECTION "DA RANGUNU DARYAB".

**Dr. Shahab ud Din**
Lecturer GDC Juwar
**Dr. Badshah.i.Room**
Associate Professor, Department of Pashto, UOM

**Abstract**

*Dr. Ali Khil Daryab has enriched Pashto poetry with eight remarkable collections, each reflecting contemporary literary trends. His latest collection, Da Rangunu Daryab, stands out for its thematic diversity, as it explores new subjects alongside traditional poetic themes. This research paper critically examines the element of diversity in Ali's poetry, highlighting how he adapts to evolving literary and social contexts. By analyzing his innovative approach, this study aims to provide valuable insights for Pashto researchers and critics. Ali's work demonstrates a deep engagement with modern issues while maintaining the essence of Pashto poetic traditions. The findings of this research contribute to the understanding of how Pashto poetry continues to evolve in response to contemporary influences.*

**Keywords:** Dr. Ali Khil Daryab, Pashto poetry, thematic diversity, contemporary trends, *Da rangunu Daryab*, literary evolution, poetic traditions, modern issues, Pashto literature, critical analysis

ډاکټر علي خېل درياب جديد غزل ګو شاعر، څېړنکار، ځانګړے افسانه نګار، ناقد ، فولکلورسټ او وتے ژباړن دے. شعري مجموعې ئې تر دې دمه اتۀ چاپ شوي دي. اخرى کتاب کښې ئې صرف غزل انتخاب کړے دے. نامه ئې ورله "د رنګونو درياب" غوره کړې ده. غزل هسې هم د قلبي کيفياتو د تصوير کشى له پاره غوره صنف ګڼلے شي. خو ددې کتاب هر غزل د شاعر د داخلي وارداتونه برجته دے . بيا هم ددغه نه سربېره پکښې يو شمېر نور موضوعات شتون لري .. ډاکټر علي خېل درياب چې په دې مجموعه کښې کوم موضوعات راوړي دي په هغې کښې پښتو پښتونولي، عشق، اخلاقيات، انسانيت او بشر دوستي، طنزيه شاعري، نرګسيت، تصوف، جماليات، ترقي پسندي، فولکلور، نسواني رنګ، امرد پرستي، مزاحيه شاعري، توهمات او ځينې نور هم شامل دي. د دې شعري ټولګې تر ټولو مهمه موضوع عشقيه شاعري ده. ځکه نو دهرې موضوع نه وړاندې د ډاکټر علي خېل درياب د عشقيه شاعرۍجاج اخلو.

## * عشقيه شاعري:

عشق او محبت يو فطري امر دے. ډاکټر درياب د محبتونو او الفتونو شاعر دے "د رنګونو درياب" تر ټولو غوره موضوع عشق ده. د حسن او مينې رنګونه دي. د وصال ارزوګارنې دي. د بېلتون ناکردې دي. بې وفائي ژړل دي. عشق که ګران کار دے خو د دې نه بغېر ژوند تېرول ناممکن وي. ځکه چې عشق ډېر خوندوره جذبه ده. ډاکټر وزير شادان د دوي د عشقيه شاعرۍ په باب کښې داسې ليکلي دي.

> "ډاکټر علي خېل درياب د مالاکنډ د سردرو هغه بلبل دے چې د ګلبڼ د ګلونو، نښترونو لمبې ئې په خپلو سترګو ليدلي دي. د بلبلانو مارغانو بار کډې ئې ژړلي دي. د بارودو بوي ورله مشام سوزولي دي د دهماکو

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT

JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8.No.2( 2025)

لوګو ورله په زړۀ شنې کړښې راښکلي دي خو زۀ درياب صاحب زړۀ ته په ريښتيا حېران يم چې د دې باوجود د دې کتاب شاعري د بارودو، د جنګ، د دهماکو او نور جويلي شوو موضوعاتو نه بېخي پاکه ده.[1]

ډاکټر درياب مينه ناک انسان دے. په الفتونو محبتونو ئې ايمان راوړے. محبت کول ئې د خپل ژوند خاص مقصد ګرځولے دے. لکه دا شعر اوګورئ.

"زۀ درياب کرونده ګر يم د مينې
څوک مې نه شي اړوے د دغې کر نه"[2]

محبت يوه داسې جذبه ده. داسې کار دے چې بنده پکښې د کار شي. د محبت نعم البدل هيڅ څيز نشته دنيا هم خدا ے د عشق له مخه پېدا کړې ده.

"په دې کښې نور څه د وئيل نشته
د محبت نعم البدل نشته"[3]

عاشقي يا خو وصال وي خوندونه وي يا هجران وي جدائي وي وصال که خوږ دے نو هجران سور اور دے. دغه جذبات او احساسات ئې داسې بيان کړي دي.

"په طمع طمع د وصال اوړي
يوه لمحه لکه د کال اوړي"[4]

يا دا شعر:

"ده وصال د جنتونو غېږه
د قيامت خېزې جدائۍ نه اخوا"[5]

په عاشقۍ کښې رسوائي، ملامتيا، انتظار، الزامات، پېغورونه او تنهائي وي. د عاشق ژوند په دار وي. قسما قسم قيصې ورپسې تړلې کېږي.

"خلقو بې بنياده الزامونه راتپلي دي
خلقو د بلها بلها قيصو سره مخ کړے يم"[6]

* پښتو پښتونولي:

د خپل کلي چم ګاونډ او محلت سره مينه لرل هم په پښتونولۍ کښې راځي. قاميت د پښتونولۍ تر ټولو لوے عنصر دے. د پښتونولۍ په باره کښې راقم الحروف په يو تحقيقي مضمون کښې داسې ليکلي دي.

"پښتونولي د پښتون قام د دود دستور او د ژوند تېرولو يو باقاعده نالیکلے شوے ائین دے. د دې د منلو دپاره څۀ خاص قسمه اداره يا تنظیم نشته خو بیا هم ټول پښتانۀ دا په ځان لازم ګڼي او د دې پاسداري کوي. پښتون قام د پښتونولۍ د عناصرو قدر کوي او په درنه سترګه ورته ګوري . او د پښتونولۍ ټول عناصر لکه جرګه، مرکه، ننګ ، غېرت، پت، مېلمستيا سرېتوب او د پښتون قام سره مينه محبت په بشپړه توګه موندلے شي."[7]

رائځ چې د ډاکټر درياب په دې شعري ټولګه کښې د پښتونولۍ سره علاقه لرونکي اشعار اوګورو.

"زما يادونه له مخ مه شوکوه
پښتونولي ده استقبال خو کوه"[8]

پت د پښتونولۍ يو جوت عنصر دے چې پت نه پالي نو پښتون به نه وي.

"تا چرته زۀ مايوسه کړے نه يم
تا همېشه چارې د پت کړې دي"[9]

حيا هم په پښتونولۍ کښې راځي پښتانه نر ښځې حيادار وي.

"مه کوه داسې به رسوا شو ګورې
چې په ګودر په تنارۀ ژاړې"[10]

ګودر، چينه، کودرې، چينارونه، د ببرو ټالونه، کشمالې کرل، شپېلۍ غږول، ټپې کول او داسې نور د پښتونولۍ په علاقه کښې راځي لکه دا شعرونه.

"په ګودر، په راهګزر، په چينې راغلم
خو دريابه مينوګۍ ورپکښې نيشته"[11]

يا دا شعر:

"نه کودرې وو نه مات بنګړي پکښې وو
په چينو په چينارونو باندې راغلم"[12]

يا دا شعر:

"د محبت روايتونه پاله
څه کشمالې خو په دېوال خو کوه"[13]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



یا دا چې:

"بېره د کور به درته ما یادوي
کله نه کله پکښې ټال خو کوه"[14]

"واوره هغې ببرې له راتلې نه شي
واوره د ټالونو نه زړۀ صبر کړه"[15]

یا دا شعر:

"ته چې نه راتلې د ببرې
ما بېګاه شلولې ټال دے"[16]

دا شعر هم اوګورئ.

"مودې اوشوې چې د ببرې لاندې ناست یم
په ساتلو دې د ټال ذرې ذرې کړم"[17]

د پښتونولۍ په باب کښې دا یو شعر هم ښه دے.

"د شپېلۍ او د ټپې نه ئې خوند لاړو
غلا خو څه نه څه راغلې ده په شپون کښې"[18]

* اخلاقیات:

د ډاکټر دریاب بله اهمه موضوع اخلاقیات ده. اخلاقیات د اسلام اهم اصول دي. د دې نه مطلب نیکي کول، امن خوښول او د خلقو زړونه ګټل دي. د اخلاقیات باره کښې پروفېسر فضل میر خټک داسې وائي.

"د اخلاقیات لغوي معنی ده د اخلاقو علم. اخلاقیات د مذهب او فلسفې اصطلاح ده. اخلاقیات د اخلاقو علم هغه علم دے. چې په اخلاقو په افعالو او د هغې په مقاصدو بحث کوي."[19]

انسان له پکار دي چې د انسان قدر وپېژني. انسان په معنی یو شان وي ټولو ته په یو شان نظر کتل پکار وي.

"ما دریابه مرګ وژلے چرته نه شي
ما د خلقو زړونو کښې ژوند کړے دے"[20]

یا دا شعر:

"بل له مینه ورکول مینه کول هم
زۀ ګڼمه اصل روح د عبادت دے"[21]

* طنزیه شاعري:

طنز په معنی د ټوقه هم راځي. په یو کس یا یو شي پورې ټوقې یا ملنډې کول. خو په ادب کښې د ژوند داسې اړخونه چې کرکه او نفرت ترې ولاړیږي یا په ټولنه کښې ورته په ښه نظر نشي کتلے په داسې اړخونو او کردارونو تنقید کول طنز دے. د دریاب هم ځینې شعرونه طنزیه رنګ لري. په سیاسي خلقو او د هغې په ورکرانو داسې طنز کوي.

"ته چې پکښې خانه مرده باد شولې
څټه دې د دغې زنده باه اووځه"[22]

په موجوده پیرانو ئې د طنز غشي ورولي دي نن هر سړي دستار په سر اینښودے دے. د ټګۍ تسپې ئې په لاس کړي دي صرف پېسو ته ئې چل جوړ کړے وي.

"ته چې زما او د هغه زړونه تړلې نه شې
بخښنه غواړمه خو پیره پیري ښنګه کوې"[23]

د نن وخت پېغلې د ستر کولو په چل نه پوهیږي. بس پړوني ختم شول. لوپټې والوتې. نن بل شان ستر راغلے دے په دغه ئې هم د طنز غشي ویشتي دي. چې اوس پېغلې مخ په ماسک پټوي.

"زۀ منمه چې ښائست دے په حجاب کښې
خو د پوزې دا کوري دې خدائے په خبر کړي"[24]

* تصوف:

تصوف د روحانیت اصلاح ده. د تصوف نه مراد د اخلاقو تصحیح ده. تصوف د سپېځلو او ښو اخلاقو نوم دے د تصوف په باره کښې پروفېسر فضل میر داسې لیکلي دي.

"د انسانیت عنصر د حیوانیت او د ملکیت د پنجې نه ازادول او دغه دواړه
د انسانیت تابع ګرځول تصوف دے."[25]

انسان کله کله د الله او رسول په مینه کښې دومره مست شي چې بیا د ځان او جهان نه هیڅ خبر نه وي.

"یو عالم د بې خودۍ راباندې خور دے
هیڅ خبر نه یم د ښه نه د ناښه نه"[26]

په صوفي کله کله داسې حالت راشي چې زوړند سر به ناست وي ځان به ئې مراقبه کړے وي. ذکر به کوي.

"زوړند سر مراقبه په تصور کښې
بس لګیا یم لیلی مې وظیفه ده"[27]

حیرت هم د تصوف یو مقام دے چې صوفي حق حېران وي په ځان نه پوهیږي. د اضطراب حالت پرې راغلے دي.

"زۀ درته ګورمه تا ګورمه خو نه ښکارې
شوق د حېرت د ائینو سره مخ کړې یم"[28]

یا دا شعر:

"تا ته ګورمه ځان ګورمه ولاړ یم
دا لا څنګه د ائینو سره مخ یم"[29]

یا دا شعر:

"په هر څه کښې وینم په هر څه کښې راته ښکارې
خو هله چې د خیال په ائینونو کښې دې ګورم"[30]

## ✱ جمالیات:

هر انسان د ښکلا، حسن او ښائست شیدائي دے. او بیا شاعران خو په خپل کلام کښې د محبوب د جمال ذکر د خپل فکر په بنیاد کوي. د جمالیاتو په باره کښې ایازالله ترکزے داسې وائي.

" جمالیات حسن وجمال کے مطالعے کا نام ہے۔اسے فلسفہ جمال کے نام سے بھی تعبیر کیا جاتا ہے۔ عربی کی اصطلاحات حسن اور جمال دونوں تمام مشرقی زبانوں میں مروج ہے مگر باریک سا فرق بھی زیر نظر رکھا جاتا ہے۔ کہ حسن عموما مغوی طور پر استعمال کیا جاتا ہے جس میں سماجی جمالیات اور صوری حسن وجمال کے تمام پہلو زیر بحث لائے جاتے ہیں۔ اگرچہ جمالیات حسن وجمال کے مطالعہ کو کہتے ہیں مگر اس میں حسن وجمال عمومی طور پر خوبصورتی کیلئے بولا اور لکھا جاتا ہے جسکی متضاد بدصورتی ہے۔جمالیات کے مطالعے میں بدصورتی کیلئے قبح کی اصطلاح استعمال کی جاتی ہے "[31]

کله چې په یوه فن پاره کښې د جمال، حسن او ښکلا ذکر اوکړے شي نو هغه جمالیات بللے شي. د ډاکټر دریاب په دې شعري مجموعه کښې د جمالیاتو څرک داسې لیدلے شي.

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8.No.2( 2025)

"خدایه دریاب له چې دې زړۀ ورکړے
خدایه نو څنګه به د جمال اوړي"[32]

یا دا شعر:

"څومره بدرنګه ده دا نوره دنیا
ستا د جمال د رنګینۍ نه اخوا"[33]

د جانان حسن ورته د هر څه نه غوره ښکاري ځکه خو وائي کنه چې ښکلا ټوله د جانان له مخې ده.

"دا زما په مخ کښې نور خو هسې نه دے
ما تل کړے ستا د حسن تلاوت دے"[34]

* ترقي پسندي:

د ترقي پسندۍ نه مراد په کلام کښې هغه عناصر راوړل یا ذکر کول کوم چې د بدلون راتلو کښې محرک ثابت شي. په ادب کښې د لوږې تندې، غربت، سماجي کمزورۍ او سیاسي غلامۍ باندې بحث کول هم په ترقي پسندۍ کښې راځي. د ترقي پسندي مطلب هم دا دے چې د مزدور او بې وزله اولس نمائندګي کول دي.

ډاکټر دریاب هم یو ترقي پسند شاعر دے دلته یو څو شعرونه په دغه حواله پېش کولې شي.

"په نرو نازکو شونډو ئې پاړونه
او په زړۀ پولۍ پولۍ ځي کډه تړي"[35]

یا دا شعر:

"لکه زما په سر زوړنده توره
داسې هم ستا ولاړ په سر حالات دي"[36]

لکه دا:

"زما که شونډو پاړ نیولے دے
ستا هم په سترګو کښې کجل نشته"[37]

* نسواني رنګ:

په شاعرۍ کښې داسې ژبه پکارولې شي چې هغه مردانه وي. خو کله کله د شاعر په ژبه د نسوانيت رنګ هم غالب شي لکه دا شعرونه هم او سنجوئ چې نسواني رنګ ترې څاڅي.

"يو ناصح راسره وران شولو وئيل ئې
په دې تولو دنياګۍ کښې بس هغه ده"[38]

يا دا شعر:

"دومره تغافل دې ګورې نه دے ښه
بيا به مې ازار درته جينۍ اووځي"[39]

يا لکه دا شعر:

"څنګه ورشمه تياره ده نيمه شپه ده
مينوګۍ نو وايه دا په څه وخت کښې دې ياد کړم"[40]

لکه دا شعر:

"د دې هر څه ذمه واره به ليلیٰ وي
په درياب باندې که څه هم د خفګان شي"[41]

دا هم نسواني رنګ لري.

"په درياب پسې که تهٔ تله غواړې دريابه
نو په داو دې نام وننګ کړه بيا به ځې"[42]

يا دغه رنګ ئې دلته هم ښکاري.

"هغه جنګ غواړې بې له جنګه جينۍ نه سميږي
هغه وران کارې خوش وشنګه جينۍ نه سميږي"[43]

* امرد پرستي:

کله کله په شاعرۍ کښې د تانيث په ځاې د تذکير صيغه راوړل امرد پرستي ګڼلے شي. دا برخه په مجازي عشق کښې حسابولې کېږي. په دغه ترڅ کښې يو څو اشعار اوګورئ.

"دا ځلې چې راشې ګړه بړه به ښه جوخته کوو
څه به هر کلے د سترګو په سلام کوو"[44]

یا دا شعر:

"يو سړے راته يادېږي خو سم ډېر
په لېمو کښې مې غړېږي خو سم ډېر"[45]

یا دا شعر:

"يو سړے دے چې په ذهن مې راخور دے
يو سړے دے چې په رګ رګ کښې مې خور دے"[46]

یا دا شعر اوګورئ.

"ټيک ده ما نه به هغه واوړي دريابه
خو چې زۀ به څنګه اوړم د هغۀ نه"[47]

✱ د مزاح رنګ:

په کلام کښې داسې خبره ذکر کول چې لوستونکي يا اورېدونکي له خندا ورولې. او د خوشحالۍ باعث اوګرځي. لکه دا دوه شعرونه.

"پښې مې پېدل په مزل ماتې شولې
چې ستاسو کلي ته سړک نشته"[48]

او دا هم:

"اوس مې دا شعر په دوه پښې ولې دے
زما په لاس کښې خو چابک نشته"[49]

✱ مادي فولکلور:

دا د فولکلور ورومبے قسم دے په دې کښې کالي پترې، جامه پېزار، د کرکيلې سامان او نور اوزار او الات شامل دي. د دې په باره کښې نورالامين يوسفزے داسې ليکلي دي.

"په مادي يا غير شفاهي فولکلور کښې د کرکيلې اوزار، ارټ نومونه، سيمه ايز هنرونه، د موسيقۍ اوزار، لباس، خوراکونه، ګودرونه او بټونه شامل دي."[50]

ګودر هم زمونږ د مادي فولکلور اهمه حصه ده او زمونږ د کلتور مهم توکے دے.

"په ګودر په راهګزر په چینې راغلم
خو دریابه مینوګۍ ورپکښې نشته"[51]

یا دا شعر:

"پوښتنې دي کوومه تپوسونه د هر چا نه
په لارو په کوڅو په ګودرونو کښې دې ګورم"[52]

وسله د انسان د حفاظت یوه داسې اله ده چې بلها قسمونه لري لکه توره، ډال، غشے، لینده، ټوپک او داسې نور.

"وخت به په ما پسې ویستلي توره ګرځي
لکه سم چې ئې په ما د پلار بدل دے"[53]

کالي پټري د شاعرۍ ښکلا ده او هم د فولکلور اهمه برخه ده. په دې کښې ګجرې، پیزوان، امیل، اوګۍ، والۍ او داسې نور هم شامل دي.

"ستا د لونګین نه مې لړ وشلوو
ستا نه سیوائي پرې زۀ خفګان کووم"[54]

پیزار د پښو د پټ ساتلو او د حفاظت کولو مهم اوزار دے. په نن زمانه کښې د سړو او ښځو پیزار تقریباً یو شان شوي دي. د ډاکټر اباسین یوسفزي یو موثر شعر وړاندې کول غواړم.

"زۀ به د زړۀ ورکه په جماعت کښې څنګه مومم
خلقو نه څپلۍ په جماعتونو کښې ورکیږي"[55]

په دغه حواله د ډاکټر درياب د مادي فولکلور دا شعر اوګورئ.

"اوس خو به په تا پسې د اوسپنې څپلۍ اخلم
اوس خو به د سترو فاصلو سره مخ کیږمه"[56]

د موسیقۍ په اوزار کښې رباب تر ټولو زیات خوښ کړے شوې اله ده. په نورو الاتو کښې باجه، شپیلۍ، تمبل، منګے او داسې بلها څیزونه راځي.

"د شپیلۍ او د ټپې نه ئې خوند لاړو
غلا خو څه نه څه راغلي ده په شپون کښې"[57]

یا دا شعر:

"موسيقي پسې د زړۀ تر تېرومه
په منګي او په رباب کښې رانه ورک دے"[58]

د کر کيلې په اوزار کښې اره او لور ئې هم خوندور استعمال کړي دي. لور، اره، تېر زمونږ مادي فولکلور دے.

"منفي رويې به پرې ربېو ياره
مونږه به د خوي اره کښې ونګ کوو"[59]

"زۀ چې ستا ښائست ته لوګېدې نه شم
بيا له دې نه ياره لو او لور ښه يم"[60]

* نيم مادي فولکلور:

په نيم مادي فولکلور کښې توهمات، دود دستور، نجوم، فالونه، خوب، جادو، ګډاګانې، لوبې، ټونې ټوټکې او ځينې داسې نور څيزونه راځي. په دغه حواله د توهمات يو شعر اوګورئ.

"د چا د حسن بلاګانې چې په ځان اخلمه
ما له هغه ګوره تعويز د بد نظر کړے دے"[61]

يا دا شعر چې پکښې په دېوال د کشمالو کرلو ذکر راغلے دے. وئيلې شي چې دې له ښاپېرې راځي.

"د محبت روايتونه پاله
څه کشمالي دې په دېوال خو کوه"[62]

د جادو په باب کښې دا شعر اوګورئ.

"ستا د تورو سحرګرو سترګو ځار شم
جادوګرو د بنګال ذرې ذرې کړم"[63]

يا دا شعر:

"ستا په سترګو کښې چې کومه اغېزه ده
دغه نشته په جادو او په افسون کښې"[64]

اخترونه هم د نيم مادي فولکلور مهمه برخه ده.

"چرته يو اختر او بل اختر دې وينم
منتونو کال په کال ذرې ذرې کړم"[65]

یا دا شعر:

"ته چې لاړې اخترونه
په ما باندې محرم شو"[66]

* نرګسیت:

نرګس چې سړے په ځان مئین وي. د نورو خلقو سره راشه درشه نه ساتي خپل ځان پېژني خپله ښه پېژني.

"وه زما په ځان مئین نرګسي یاره
چرته زهٔ دې هم راځم کنه په پام کښې"[67]

د اباسین یوسفزي یو ډېر ښکلے شعر په دغه باب کښې داسې دے.

"په ځان کښې دغسې راتول ګرځمه
لکه په جونو پېغلتوب راشي"[68]

هم دغه رنګ د ډاکټر دریاب یو ښکلے شعر دغه دلالت کوي.

ته په خپل نرګسیت کښې نوتے ئې
زهٔ دې هر وخت یادولو لېونے کړمه"[69]

یا دا شعر:

"منم د ورځې خو په خپل نرګسیت کښې ډوب ئې
مېنې د شپې په حافظه کښې دې راځم او کنه"[70]

د دې نه سربېره "د رنګونو دریاب" یو شمېر موضوعات نور هم لري خو تر ټولو اهمه موضوع ئې عشق دے. د حسن او مینې د رنګونو دریاب دے. په نورو موضوعاتو کښې مادي فولکلور او نیم مادي فولکلور، تصوف، جمالیات، اخلاقیات، رومانیت، ترقي پسندي او پښتو پښتونولي جوت لیدلے شي. شاعرۍ کښې عموماً او په غزل کښې خصوصاً هر قسمه موضوعات بیانېدې شي. هم دغسې ده چې په دې شعري ښېلګه کښې د رومانیت موضوع فراخه ده ولې چې عشقیه شاعري هم د رومانیت برخه ده. د کرکې، مایوسۍ، حزن، یاس او نا امېدي په ځاے د محبتونو، الفتونو او ورسره تړلې موضوعاتو شاعري راوړلې شوې ده. د روایت نه ډېره شوې ده او په یو شمېر موضوعاتو په خلاص مټ لیک شوے دے. خپل لیک به د استاد محترم په دې شعر راټول کړم چې.

"په غزل دې حد تمام کړلو دریابه
نقادان دې سر اونیوو اسلوب ته"[71]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



حوالې

[1] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مشموله سریزه، د رنګونو دریاب، از ډاکټر وزیر شادان، سوات، ګران خپرندویه ټولنه، اکتوبر 2024، مخ22

[2] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 87

[3] همدغه اثر، مخ 106

[4] همدغه اثر، مخ 42

[5] همدغه اثر، مخ 126

[6] همدغه اثر، مخ 189

[7] داود خېل، شهاب الدین، پروفېسر، مشموله مقاله د ډاکټر اسرار د شاعرۍ موضوعاتي جاج، دوه میاشتنۍ، پاڅون، مردان، جلد ۱۶، ګڼه ۳، نګران ډاکټر اسرار اسرار/ حضرت زبېر زبېر، مئي/جون 2022، مخ 22

[8] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 46

[9] همدغه اثر، مخ 152

[10] همدغه اثر، مخ 51

[11] همدغه اثر، مخ 111

[12] همدغه اثر، مخ 54

[13] همدغه اثر، مخ 152

[14] همدغه اثر، مخ 47

[15] همدغه اثر، مخ 192

[16] همدغه اثر، مخ 206

[17] همدغه اثر، مخ 252

[18] همدغه اثر، مخ 266

[19] همدغه اثر، مخ 27

[20] همدغه اثر، مخ 213

[21] همدغه اثر، مخ 229

[22] همدغه اثر، مخ 246

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



[23] همدغه اثر، مخ 178

[24] همدغه اثر، مخ 84

[25] خټک، فضل مير، پروفېسر، فضليات، پېښور، اعراف پرنټرز محله جنګي، دريم اشاعت، جولائي 2021ء، مخ 163

[26] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مخ 160

[27] همدغه اثر، مخ 150

[28] همدغه اثر، مخ 188

[29] همدغه اثر، مخ 138

[30] همدغه اثر، مخ 147

[31] ترکزے، ایازاللہ، جمالیات کیاہے، پشاور، اعراف پرنٹرز محلہ جنگی، س ن، ص 5

[32] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، مخ 43

[33] همدغه اثر، مخ 127

[34] همدغه اثر، مخ 228

[35] همدغه اثر، مخ 269

[36] همدغه اثر، مخ 140

[37] همدغه اثر، مخ 106

[38] همدغه اثر، مخ 223

[39] همدغه اثر، مخ 168

[40] همدغه اثر، مخ 235

[41] همدغه اثر، مخ 239

[42] همدغه اثر، مخ 181

[43] همدغه اثر، مخ 256

[44] همدغه اثر، مخ 52

[45] همدغه اثر، مخ 58

[46] همدغه اثر، مخ 258

[47] همدغه اثر، مخ 81

[48] همدغه اثر، مخ 122

[49] همدغه اثر، مخ 123

[50] یوسفزے، نورالامین، فولکلور او د پښتنو فولکلور، پېښور، اعراف پبلشرز، ندیم ټریډ سنټر، نومبر 2019، مخونه 51-52

[51] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 111

[52] همدغه اثر، مخ 146

[53] همدغه اثر، مخ 77

[54] همدغه اثر، مخ 191

[55] اباسین یوسفزے، الوت، مینګوره سوات، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سېلرز، پینځم ځل 2013ء، مخ 199

[56] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 263

[57] همدغه اثر، مخ 266

[58] همدغه اثر، مخ 97

[59] همدغه اثر، مخ 198

[60] همدغه اثر، مخ 214

[61] همدغه اثر، مخ 195

[62] همدغه اثر، مخ 47

[63] همدغه اثر، مخ 252

[64] همدغه اثر، مخ 267

[65] همدغه اثر، مخ 253

[66] همدغه اثر، مخ 163

[67] همدغه اثر، مخ 99

[68] اباسین یوسفزے، غورځنګونه، لاهور، ندیم یونس پرنټرز، لسم چاپ، دسمبر 2013ء، مخ33

[69] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 137

[70] همدغه اثر، مخ 70

[71] همدغه اثر، مخ 95